## د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر پیغام

زه د میریډیان نړیوال مرکز د انځوریز ننداړتون *"له کوچنیو شیانو نه یادونه"* د ترتیبولو سترې هڅې ته تود هرکلی وایم، چې د ۱۹۳۰ز څخه تر ۱۹۷۰ز لسیزو پورې د متحده ایالتونو سره د افغانستان د اړیکو تاریخ په انځوریزه بڼه کښې ځرګندوی. دا ننداړتون به په نړیوال ډګر کښې د افغانستان یوې تاریخي ونډې ته یو بې ساری فکري اړخ ورکړي.

د تېرې پېړۍ په اوله نیمایي کښې پیل شوې د متحده ایالتونو او افغانستان ترمنځه اړیکې د بېلابېلو تاریخي دورو په اوږدو کښې وده کړې ده، چې په هغې کښې د امنیت او بښپرازۍ، او د ننګونواو بې یقینۍ دورې شاملې دي. په هر حال، په هر وخت کښې د متحده ایالتونو خلکو د افغانستان د ربښتیني هیلو مرسته کړې ده. د ۱۹۸۰ز لسیزې په اوږدو کښې د شوروي اشغال څخه د خلاصون لپاره زموږ هلو ځلو ته ترلاسه شوې مهمې مرستې نه راوخله تر تېره یوه لسیزه کښې زموږ د هېوادونو ترمنځه د اقتصادي تعاون پورې، زموږ د دوستۍ لپاره یو پیاوړی بنسټ له مخکې نه موجود و، په ۲۰۰۱ز کښې پیل شوي زموږ د اړیکو د نوي څپرکي نه هم مخکې.

د ۲۰۰۱ز راهیسې، متحده ایالتونه د یوې پراخه نړیوالې هڅې مشري کوي، کومې چې افغانستان د نړیوالې ترهګرۍ له منګولو څخه خلاص کړ، او له ډېر وخت څخه غوښتل شوي د ثبات او بښپرازۍ لاره یې پرانیستې ده. په تېره لسیزه کښې زموږ د دوستۍ پېژندوی نښان زموږ ګډ د جمهوریت ارزښتونه، د بشري حقونو احترام او سیاسي ګوندیز ډېروالی دی. موږ په افغانستان کښې دې ته ژمن یو چې د افغانستان او متحده ایالتونو ترمنځ موجود مهم شراکت ته ادامه ورکړو او نور یې پراخ کړو. نه یوازې زموږ د خپل هېواد د ګټو لپاره بلکه د ټولې منطقې د ګټې لپاره چې ثبات یې زموږ لپاره ډېر مهم دی.

زه باور کوم چې دا ننداړتون *"له کوچنیو شیانو نه یادونه"* د ستاینې وړ ابتکار دی چې زموږ د تېر وخت اړیکو درک کولو کښې به زموږ مرسته وکړي او په اینده کښې په نور پرمختګ کولو زموږ توانېدو باندې به فکر وکړي.

زه په دې موقعې باندې د ننداړتون د منتظمینو مننه کوم او د دې کتلو لپاره په احتمالي توګه زیات کتونکي هڅوم. همداراز زه دې ته ورته ابتکارونه هڅوم ~~ننګوم چې~~ هغه د دوست هېوادونو په حېث زموږ اړیکو نه یوازې کلتوري بلکه تاریخي بعدونه هم ځرګند کړي.

په اخلاص

ډاکټر زلمی رسول
د بهرنیو چارو وزیر
د افغانستان اسلامي جمهوریت